AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی
۲۰۱۸/۱۲/۲۸

# د جدي شپېړمه، د شیشکو او بلاګانو مور

د کرملین مانۍ چې په روسي ژبه کې د مزبوتي او برجه ورې کلا معنی لري، له تیرو پنځه نیمو پیړیو راهیسی لمړی د تزاري قیصرانو، بیا د لینن په مشری د بلشویکانو او اوس د ولادیمیر پوتین د بی سیاله واکمنی سمبول ګڼل کیږي. دغه لرغوني او تاریخي مانۍ د کور دننه او هم په نړیواله کچه، د بی شمیره سرسامونکو، ویجاړونکو او بوږنونکو پوځي پریکړو او سیاسي غورو پرزو شاهده او دغه لړۍ تر دی دمه روانه ده.
له ۱۴۸۵م څخه تر ۱۹۱۷ کال پورې، په ختیځ کې سایبریا، په سویل کې توله مسلمانه مرکزي آسیا او په جنوب لویدیز کې د ققفاز د دنګو غرونو تر لمنو پورې دغه پراخه سیمې د تزاریانو د زمبر لاندی وې. کله چې د ۱۹۱۷ کال په اکتوبر کې پرولتاري انقلاب کامیاب شو نو د سرحدونو مزي یې د برلین او وارسا تر ورشو ګانو پورې وغزیدل او د لور او څټک اوسپنیز سیاست پلی شو. په ۱۹۹۱کال کې د شوروي اتحاد له جنازې راهیسي تر ننه د چیچنیا، ګورجستان، کریمیا او سوریې د بدرنګو جنګونو قومنده او فیصلې، د سور میدان طلایي منارو ته مخامخ د کرملین په ګومبزو کې کیږي.
د ۱۳۵۷هـ کال د غوایي په اومه د خلق او پرچم د ګوندونو لخوا د یوې خونړۍ کودتا په ماښام ولسمشر محمد داود شهید او د هیواد سیاسي واک د دوئ په لاس کې پریوت، خو د یوکال دننه د پراخه جهادي او ولسي مقاومت له برکته د دغو بانډونو رژیم د پانډ په سر ودرید. نو له همدی امله د لیونید برژنیف په مشرۍ د شورویِ اتحاد د کمونست ګوند سیاسي پولیټ بیرو په کرملین کې فیصله وکړه چې د ځمکې او هوا له لارې د ۱۳۵۸هـ کال د مرغومي په شپږمه، افغانستان ته یولک او لس زره عسکر ولیږي، کومه چې ګاونډیو هیوادونو ته د ملیونونو افغانانو د هجرت او بی شمیره بدمرغیو پیلامه شوه.
د همدې یرغل د پایلې په توګه، امیرالمؤمنین جنرال ضیاءالحق ته د هغې زرې نسخې د ازمیښت زمینه یوځل بیا لاس ورغله کومه چې نوموړي د ۱۹۷۰ کال په سپټمبر کې د فلسطینانو پخلاف په اردن کې ازمایلي وه. درې نیم ملیونه افغان مهاجرین یې لمړی په اووه ګوني اتحاد کې سره وویشل او بیا یې د اخواني او منځلاري په خم کې رنګ کړل. په پاکستان کې د دیني مدرسو شمیر له دوه نیم زرو څخه شپاړسو زرو ته ورسید او د شتمنو عربي هیوادونو په زرګونو ځوانان چې په ارزان بیه ټکټونو د کمونیزم سره د دغرې وهلو لپاره زموږ سیمې ته راغلل. ولی ځینو یې د سرپریکولو اوځان وژنې داسی وحشي کلتور له ځانه سره سوغات راوړ چې ناسور یې د هرې ورځې په تیریدو سره ژوریږي.
له بله پلوه، په ایران کې د نژدی دوه ملیونه افغان کډوالو موجودیت د قم آیت الله ګانو ته ښه چانس په لاس کې ورکړ چې په زرګونو اړ او بی تعلیمه تنکي مهاجرځوانان د صدام حسین د ځواکونو په وړاندی د کور رنګي جګړې لمړیو لیکوته واستوي، چیرته چې نژدی ۴۵ زره افغانان پکې مړه او ددی شمیر دوه چنده نور یې ټپیان او تر ننه ترې تم دي. او اوس یې د فاطمیون په نوم د قبرونو د جګړو لپاره بل لښکر جوړ کړی ترڅو د بشارالاسد د مجرم رژیم په ګټه ددغه مذهبي او توکمیز جنګ په مورچو کې برغنډ برغنډ او سرونه یې لو شي.
د شوروي یرغل د ناورو اغیزو لړۍ ښایسته اوږده او ډیره دردونکې ده، چې په سر کې یې زموږ د قومي جوړښت او ملي وحدت ټکني کیدل او د سمتي، ژبني او بی مالګې مذهبي سیاست رنګ خپلول دي. نن نه یوازې د فرانکفورت او سیډني په واټونو کې د (من آفغان نسیتم) کړغیرن شعار زمزمه کیږي، بلکې د دولت او حکومت د دویمې او دریمې کچې لوړ رتبه جنابان ددغې ناړې ترشا ولاړ اوحتی د افغانستان له نوم څخه انکار کوي چې ګوندی هغه د ایراني تمدن د حوزې یوه برخه ده.
د همدی تاړاک له برکته، افغانستان نن د اداري فساد له مخې د نړۍ د روښتیا او شفافیت د زینې په لاندیني پاټکي ولاړ او پاسپورټ یې په افریقا کې د صومال او کانګو د هیوادونو څخه هم وروسته او کم اعتباره دی. د مخدره موادو او نشه ئی توکو د کښت او صاداراتو په ډګر کې په مسلسل ډول، د دیارلسم کال لپاره د ټولې نړۍ په لمړي کتار کې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ځای لري او د کورنیو معتادینو او نشه یانو شمیر یې درې ملیونو ته رسیږي. په اقتصادي ډګر کې د نړۍ د ډیرو نیستمنو او خوارېږقو اتو هیوادونو په لیکه کې ځای لري چې د حکومت او دولت مالي لګښتونه او معاشونه یې د بدایه هیوادونو اوسازمانونو لخوا ورکول کیږي، چې د کچکول او درویزې کلتور بللی شي.
د شوروي یرغل په نتیجه کې، په ۱۹۸۵م کې د پیښور په بیت الانصار کې د القاعدې د بنسټ ډبره کیښودل شوه چې د ترهګریزو عملیاتو لړۍ یې د نیویارک تر برجونو او د اروپا تر رستورانونو پورې ورسیده چې د زرګونو بیګناه انسانانو د مرګ او د اسلام د سپیڅلي دین د بدنامۍ سبب شوه.
دا چې په عراق کې د زرقاوي، تکفیري، داعش، رافضي او حشد شعبي په نوم کومې ډلې وژني کوي، د دغو ګروپونو اکثره مشران د شوروي د همدې یرغل په مهال روزل شوي عناصر دي. نن چې په سوریه او لیبیا کې د ۲۷۱ مختلفو تنظیمونو او وسله والو ګروپونو ترمنځ د وینو لښتي بهیږي، یا په یمن کې کومه ناروا او مذهبي جګړه روانه ده، الهام یې له شوروي یرغل څخه اخیستی او مخکښان یې د همدې فکر خلک دي. نو ځکه خو اکثره یې پرې څارونکي او څیړونکي پدې باور دي چې په افغانستان باندې شوروي یرغل د شیشکو وینه او ددغو تورو بلاګانو مور ده.
د همدې یرغل له امله، پدې وروستیو دوو پیړیو کې د نړۍ په هیڅ هیواد کې دومره اوږده او خونړۍ جګړه نده لیدل شوې څومره چې په افغانستان کې روانه ده. د نړۍ په معاصر تاریخ کې هیڅ خپلواک هیواد په څلویښتو کالو کې څلور ځلي د خپلو ګاونډیانو او نړیوالو زبرځواکونو لخوا دومره ځپل شوی او ګواښل شوی ندی لکه څرنګه چې زموږ وطن دی.
د شوروي اتحاد د ظلم او یرغل په وړاندې د افغان ولس جهاد، پاڅون او مقاومت زموږ د معاصر تاریخ یوه نه هیریدونکې او تلپاتې حماسه ده. د شوروي اتحاد پوځونه له افغانستان څخه په چک چکو او کنفرانسونو ندي وتلي، بلکې د همدغو خړو پړو مجاهدینو د وینو او افغان ولس د ټولو پرګنو د شهامتونو په نتیجه کې د حیرتان په بندر اړول شویدي.
له دوهمې نړیوالې جګړې دادی ۷۳ کاله تیریږي خو د هولوکوسټ نازي مجرمین د دنیا په هیڅ ګوټ کې د سرپټولو ځای نلري. څلویښت کاله وشول خو د ایران مذهبي رژیم نن هم، په اصطلاح د شیطان بزرګ شعار زمزمه کوي. ولې زموږ د یونیم ملیون شهیدانو وینې او د یوملیون کونډو اوښکې لا وچې نه وې چې د ځینو جهادي تنظیمونو مشران په ډیره بیړه د بوریس یالتسین د دیدار پخاطر د کرملین سور میدان ته ورسیدل او د تاوان غوښتنه خو څه د معذرت کلمه هم د چا په ژبه رانغله ؟!
مازې همدا څو اونۍ وړاندې، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او اسلامي امارت نماینده ګان په مسکو کې د روسیې د بهرنیو چارو د وزیر لاف روف ښې او کیڼ اړخ ته موسکي موسکي ودریدل او بیا یې د څلورو ځوانو او ښکلو خبریالو میرمنو سره اوږدې او خوږې مرکې وکړې، کومې چې په پخوا کې د خوک د غوښې په څیر حرامې ګڼل کیدې.
نن د شوروي اتحاد د خونړي، بربنډ او ناروا یرغل نه دیرشمه کلیزه ده. د څلورو لسیزو د پرله پسې جګړې پدې پیر کې، د افغان ولس غوڅ اکثریت له هیڅ چا سره د نورو جنګونو او دښمنیو حوصله، وس او اراده نلري. نور باید سوله سپیڅلې او له ورور وژنې څخه برائت اعلان شي. له هرچا سره دې خبره، راشه درشه او دوستي وشي خو حساب ترمنځه، ځکه مؤمن له یوې سوړې څخه دوه ځلي نه چیچل کیږي!!

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ